مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۳۹۸ د وږي ۲٤مه | د ۲۰۱۹ د سپټمبر ۱۵مه | ٤۲۷مه ګڼه


# پوهنتون

۴ مخ

## خاتم النبیین پوهنتون

د دغه پوهنتون علمي او تدریسي مرستیال ښاغلی مکارم ناصري بختیاري وایي، اوسمهال خاتم النبیین پوهنتون لس پوهنځي او ۲۱ ډیپارټمنټونه لري، چې ټولټال په کې ۴۸۳۸ محصلین زده کړې کوي.

# د مذاکراتو تر دریدو وروسته؛

## جګړه شدیده شوې او طالبان وايي چې سل کاله نوره هم جګړه کولی شي



۳

## سږ کال د میدان وردګو د مڼو په حاصلاتو کې ۱۵ سلنه زیاتوالی راغلی



د میدان وردګو ولایت د کرنې ریاست مسوولین وایي، په دغه ولایت کې د تېر کال په پرتله د مڼو په حاصلاتو کې له لسو تر پنځلسو سلنې زیاتوالی راغلی دی.

د یاد ولایت د کرنې رییس ولید احمد تسل پرون ازادي راډیو ته وویل، چې سږ کال به د دغه ولایت له باغونو له یو لک او شل زرو ټنو زیاتې مڼې راټولې او بازار ته به وړاندې شي.

د ښاغلي تسل په خبره، که په اوسط ډول د دغو مڼو د یو من بیه سل افغانۍ په نظر کې ونیول شي، د میدان وردګو ولایت د سږ کال د مڼو د حاصلاتو ارزښت ۱،۷ میلیارده افغانیو ته رسېږي.

دی وایي، د میدان وردګو ولایت مڼې تر ډېره د هېواد په داخل په ځانګړې توګه په کابل کې ښه بازار لري او له هېواده بهر هند او پاکستان ته هم صادرېږي.

## د جوبايېدن خبرو ته معقول او عملي غبرګون

۲ مخ

## د ګران وطن ټوټه کول؛ هغه آرمان چې هر تاړاکګر یې ګور ته وړي

۲ مخ

## دوه زره کلنه دوستي

۳ مخ

## ناټو: افغان جګړه نظامي حل نه لري، باید د سولې له لارې دغه ستونزه پای ته ورسول شي

په داسې حال کې چې په دې وروستیو کې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ له طالبانو سره د سولې خبرې لغوه کړې، د ناټو یوه لوړپوړې چارواکي ویلي، په افغانستان کې روانه جګړه له نظامي لارو د حل وړ نه ده.

د ناټو د پوځي کمېټې رییس سټوارټ پیچ په ویلز کې د یاد سازمان یوې غونډې ته ویلي، ټول په دې پوهېږي چې د افغانستان روانه جګړه نظامي حل نه لري، نو باید د خبرو له لارې ورته د پای ټکی کېښودل شي. پیچ دغه راز زیاته کړې، دوی به د سولې د هڅو ترڅنګ د افغان ځواکونو روزنې او ملاتړ ته دوام ورکړي.

د نوموړي په خبره، افغان پوځ باید د دې لپاره ښه وروزل شي چې له نړیوال تروریزم سره د مبارزې لپاره پوره چمتووالی ولري. هغه ویلي، دوی په افغانستان کې د دې لپاره حضور لري، څو د سولې یو غوره فرصت ته لار پرانیزي.

بلخوا په امریکا کې د ناټو پخواني سفیر دوګلاس لوټ په تازه څرګندونو کې ویلي چې له طالبانو سره د سولې خبرې له منځه نه دي تللې او بېرته به له سره پیل شي. هغه ټینګار کړی چې افغان جګړه نظامي حل نه لري او له طالبانو سره د امریکا خبرې به بېرته له سره پیل شي او طالبان به هم له افغان حکومت سره خبرو ته حاضر شي، خو د نوموړي په خبره، دا چاره وخت ته اړتیا لري.

## ټاکنو کمېسیون: په ناامنو سیمو کې به ټاکنیز مرکزونه تړلي وي



۲ مخ

## وزارت معادن: در بخش استخراج کرومایت ۲۰ میلیون دالر سرمایه گذاری می‌شود



وزارت معادن و پترولیم، توافقنامه‌های تعدیل پنج قرارداد استخراج سنگ کرومایت را که بر اساس آن، ۲۰ میلیون دالر سرمایه گذاری می‌شود، دیروز با نمایندگان شرکت‌های تطبیق کننده، امضا کرد.

بر اساس معلومات وزارت یادشده، این پنج معدن کرومایت؛ در ولسوالی چهارآسیاب کابل، در مناطق کنجک و بابوس مربوط مرکز ولایت لوگر، در ولسوالی کوه صافی پروان، و ولسوالی نرخ میدان وردک موقعیت دارند.

به گفتهٔ منبع؛ پنج قرارداد سنگ کرومایت که موافقتنامه‌های تعدیل آن دیروز امضا شد، در شش ماه گذشته توسط کمیته بین الوزارتی در وزارت معادن و پترولیم، مورد بررسی قرار گرفته و نتیجه آن به کمیسیون تدارکات ملی ارایه شده بود.

نرگس نهان سرپرست وزارت معادن و پترولیم، که دیروز در مراسم امضای این توافقنامه‌ها سخن می زد، گفت که کمیسیون مؤظف پس از بازنگری قراردادها، فیصله کرده است تا این پنج قرارداد، بر اساس فیصله کمیسیون تدارکات ملی تعدیل شود.

او دلیل عمده تعدیل در این قراردادها را بلند بودن فیصدی رویالتی و مشروط بودن سرمایه گذاری برای پروسس کرومایت در داخل، عنوان کرد.

او گفت که قراردادهای سنگ کرومایت، در روشنایی قانون جدید معادن، مورد بررسی قرار گرفته و فیصدی رویالتی (حق امتیاز) آن، از ۳۰ درصد به پنج تا ۷.۵ درصد کاهش یافته است.


Shigal English Academy
شیګل انګلیش اکاډمي
SHIGAL ENGLISH ACADEMY 2019
Easy English learning
DEL
TOEFL iBT
shigal.edu@gmail.com Shigal English Academy www.shigal.edu.af +93 (0) 789 98 9696
Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

دریځ

## د جوبایډن خبرو ته معقول او عملي غبرگون

د امریکا ولسمشریزو ټاکنو ته نوماند او د پخواني ولسمشر بارک اوباما مرستیال جوبایډن تازه ویلي چې افغانستان باید درې ټوټې شي او فدرالي حکومت دې پکې جوړ کړل شي. بایډن ویلي چې افغانستان په اوسنۍ بڼه د جوړېدو نه دی. نوموړي زیاته کړې چې امریکایي ځواکونه دې له افغانستانه و ایستل شي او پر ځای دې یې امریکا په پاکستان کې سترې نظامي اډې جوړې کړي. بایډن وایي، د اړتیا پر مهال به امریکایي ځواکونه له پاکستان څخه په افغانستان کې نظامي عملیات کوي.

جوبایډن په ډیموکراتو کاندیدانو کې مخکښ دی او داسې اټکل کېږي چې هغه به په راتلونکو ټاکنو کې له خپل جمهوري غوښتونکي سیال سره میدان ته را وځي. تر دې وړاندې هم پخوانیو او اوسنیو امریکایي چارواکو د افغانستان په تړاو همداسې څرگندونې کړې دي. د کانگرېس ځینو غړیو په عملي ډول د افغانستان د فدرالي کېدو او آن تجزیې لپاره هلې ځلې کړې دي. آن د امریکا اوسني ولسمشر د ځمکې له نقشې د افغانستان د ورک کولو او د لسو میلیونو افغانانو د وژلو گواښ کړی و.

د امریکایي چارواکو دا ډول څرگندونو ته زموږ غبرگون تل یوازې د الفاظو تر بریده احساساتي غبرگون وي. دغه ډول څرگندونو او دریځونو ته زموږ غبرگون باید ډېر شعوري، معقول، ژور او عملي وي. د یو مناسب او معقول غبرگون لپاره، دا مریکا له اړخه له هر داسې پیغام سره سم موږ باید درک کړو چې امریکایان زموږ اصلي دښمنان دي. موږ د دوی د گټو لپاره په اور کې سوځېږو او دوی نه غواړي چې دا اور ختم شي. همدا فکر باید عام شي او هر افغان باید امریکا ته د دښمن په سترگه وگوري. له دې سره په څنگ کې باید موږ خپلمنځي فاصلې کمې او ختمې کړو. موږ باید پوه شو چې تر هر سیاسي او آن وسله وال افغان مخالفت څخه زموږ لپاره امریکا بده او خطرناکه ده. زموږ سیاسي او وسله وال مخالف زموږ ورور دی، باید ورسره خبرې وکړو، باید غوښتنې یې واورو او باید د بهرنیانو د خوشالولو لپاره د خپل ورور پښې ونه وهو. حکومت باید درک کړي چې طالب افغان دی، د دې خاورې او وطن دښمن نه دی او تر امریکا زموږ لپاره زر ځله ښه دی. همداسې طالب باید درک کړي چې اصلي دښمن افغان نه دی، افغان حکومت نه دی، بلکې اصلي دښمن بل دی. امریکا زموږ د سولې، امن، ارزښتونو، پرمختگ، خوشالۍ او سوکالۍ اصلي دښمنه ده. امریکا ده چې زموږ د وژلو، فدرالي کولو، تجزیه کولو او د نړۍ له نقشې د ورک کولو فکر لري. امریکا ده چې زموږ د امن او سولې پر وړاندې یې اصلي خنډ جوړ کړی دی، هره ورځ موږ وژني او جگړه غځوي.

له همدې امله افغانان باید د امریکایي چارواکو او نورو سیاستوالو ناوړه خبرو ته عملي غبرگون وښیي. عملي او معقول غبرگون دا دی چې له خپل افغان ورور سره دښمني پرېږدو، یو بل ته لاس ورکړو او ټول په گډه د امریکایي دسیسو او شومو پلانونو پر وړاندې ودرېږو. همدا شعوري او عملي غبرگون دی. له دې پرته غبرگونونه بې گټې احساسات دي چې زموږ ستونزې نه حلوي.

# د گران وطن ټوټه کول؛

## هغه آرمان چې هر تاړاکگر یې گور ته وړي



لیکنه: قاضي نجیب الله جامع

د امریکا ولسمشریزو ټاکنو ته نوماند او د پخواني ولسمشر بارک اوباما مرستیال جوبایډن تازه د افغانستان په هکله په خپلو غیر مسوولانه څرگندونو کې ویلي، چې افغانستان باید درې ټوټې شي او فیدرالي حکومت دې پکې جوړ کړل شي. د ده په خبره، افغانستان په اوسنۍ بڼه د جوړېدو نه دی.

د جوبایډن خبرې چې په ښکاره د یوه ملت سپکاوی، د یوه هېواد د ملي امنیت گواښنه او په ټوله کې بې شرمانه لاسوهنه ده، د امریکا - افغان اړیکو او امریکا ـ افغان جگړې په تاریخ کې نوې او تازه هغه نه ده.

تر دې وړاندې د (۸۸ ورځې تر کندهاره) کتاب لیکوال رابرټ ال گرینییر، له طالبانو وروسته په افغانستان کې د (حکومتواله) کتاب لیکوال سفیر ډابنیز چې ښاغلی گرینییر په اسلام اباد کې د (CIA) چارسمبالی و، په ډېرې سپین سترگۍ لیکلي چې پښتانه د افغانستان ۳۸ سلنه نفوس جوړوي. له دې څخه هاخواه د (۴۰ کاله په توپان کې) کتاب لیکوال د امریکایانو د افغان دښمنۍ، دسیسو او شرارتونو د افشاه کولو پر مهال لیکي، چې (CIA) پښتانه په بېلابېلو اسنادو کې د ٦٨ سلنې پر ځای تل ۴۸ او ۳۸ سلنه یاد کړي دي.

له دغه منطق څخه د امریکایانو او تر هغوی وړاندې استعماري ځواکونو موخه دا ده، چې له یوې خوا هغه تجزیه طلبو عناصرو ته چې د دوی او د سیمې هېوادونو په ملاتړ چلېږي، د شرارت او فتنې خوراک پیدا کړي او بل لور ته هغه شومې طرحې چې دوی یې تر اشغال لاندې حکومتونو ته لري او هغه د یوه کاواکه، نامشروع او اردلي حکومت له لارې په لنډمهال کې د جگړو او شرارتونو دوام او وروسته د گران وطن د تجزیې او ماتولو تر کچې (B) پلان دی.

**امریکا او د گران افغانستان د ټوټه کولو استعماري سیاست یې**

د گران وطن د ټوټه کولو طرحه له ۱۹۹۲ ز کال څخه د امریکا د بهرني سیاست برخه ده. د دې استخباراتي طرحې شرایط هغه وخت ممکن شول، چې کله مسکو د خپل لاسپوڅي رژیم پر سر له امریکا سره معامله وکړه.

هغه مهال تنظیمي ایله جاریانو د دې پر ځای چې د افغان ولس جدجهد، مبارزو او ارمانونو ته کار وکړي، ورته ژمن پاتې شي او په ټوله کې مات او څب څب ولس بېرته د خپل غني تاریخ پر لور د ملت کېدو خواته بوځي، ځینې بدمستې د قومپالنې، عصبیت او ځانچارۍ پر نیلو سپاره شول، ملت ته یې شاه او هم هغه کمونیست مسکو ته یې مخه کړه، چې دوی د ملک په گوټ گوټ کې ملک الطوایفي واکمنۍ جوړې کړې، کابل یې پر پنځو پلازمېنوووېشو او حتا دوستم خو په شېږو شمالي ولایتونو کې بیل بانکنوټونه، بیرغ او جلا سفارتي اړیکې له ترکیې او ازبکستان سره لرلې.

خو د طالبانو په راتگ سره هغوی د شر او فساد دغه پردې تنظیمي ټغر ټول کړل، افغانستان یې د یو واحد حاکمیت او واکمنۍ تر چوکاټ لاندې یو موټی کړ.

د طالبانو ځینې وړې نیمگړتیاوې او بیا د سپټمبر د ۱۱مې جعلي پېښې امریکا ته یوځل بیا زرین چانس ورکړ، چې سیمې ته راشي او دلته د نورو استخباراتي او ستراتیژیکو موخو ترڅنگ، د گران افغانستان د ټوټه کولو پلان هم وڅاري.

دوی د اکتوبر په اوومه پر افغانستان له یرغل سره هممهاله او وروسته عملاً د افغانستان د عملي او سیاسي ټوټه کولو پالیسي مخته وړه.

د بېلگې په توگه، د (۴۰ کاله په توپان کې) کتاب د لیکوال ښاغلي خرم په خبره، امریکا په داسې حال کې چې د طالبانو خلاف یې په شمال کې د بي ۵۲ بمونه کارول او شدیده جگړه یې کوله، په اسلام اباد کې د طالبانو لومړۍ کچې ډیپلوماټ (ملا عبدالسلام ضعیف ) ته ویلي وو چې که تاسو موافقه وکړۍ، چې له مونږ سره له جگړې لاس واخلۍ، نو مونږ به تاسې ته شپږ سهیلي ولایتونه وسپارو او همدلته تاسې بېل حکومت وکړۍ، هغه طرحه چې طالبانو رد کړې وه.

له دې څخه په را وروسته کې امریکایانو د بن په کنفرانس کې یوځل بیا په افغانستان کې د جگړې، سیاسي نفاق او یوې ممکنه تجزیې طرحه عملاً عملي کړه او هغه نظار شورا ته د زمري د ونډې (واک) ورکول وو.

امریکایانو په ۲۰۰۱ ز کال د بن په کنفرانس کې د خپلو سیاسي-استعماري ستراتیژیو د تعقیب په موخه، عملاً پښتانه چې هغه مهال طالبانو او اسلامي گوند یې رهبري کوله، د هېواد له سیاسي صحنې وایستل. په مقابل کې یې ټول واک د طالبانو وسله والو دښمنانو ته وسپارو او پر قومونو د واک وېش د امریکایانو هغه قصدي کار و، چې لا له پیله یې د خپلو ستراتیژیکو استعماري او استثماري سیاستونو ته د رسېدو په موخه کاوه او د دغه ستر ملت یووالی ورته د منلو نه و؛ نو ځکه یې د ټوټه کولو سیاست چې د واک وېش او د یوې ډلې له واکه ایستل او بلې ته د هرڅه ورکول یې ښه بېلگه کېدای شي.

د دغو سیاستونو پایله دا شوه چې چا به په پښتو خبرې کولې، طالب بلل کېدو او طالبان بیا ټول ترهگر بلل کېدل او د دغې امریکایي قومي فتوا پر بنسټ، پښتانه یا ووژل شول او یا زندانونه پرې ډگ کړای شول.

هغه د مرگ او زندان انتخاب چې د امریکا د وخت دفاع وزیر طالبانو ته اېښی و، د بن له کنفرانس وروسته یې ټکي په ټکي عملي کړ.

د دغو استعماري ـ امریکایي تگلارو پایله داشوه چې په ۲۰۰۷ ز کال کې افغانستان عملاً د جگړې ډگر وگرځېدو. بل لور ته د ۲۰۰۹ ز کال د ولسمشریزو ټاکنو پر مهال د امریکایي سیاستوالو دغه طرحه عملاً د دوی د غټو ډیپلوماټانو پر کاري سیاست بدله شوه.

ریچارډ هالبروک د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا ځانگړی استازی افغانستان ته راغی او دلته یې پخواني ولسمشر کرزي ته وویل، چې تاسې باید د فیدرالیزمي فتنې لومړۍ خښته چې د (اجرایه) ریاست رامنځته کېدل دي، ومنۍ.

کرزي دا رد کړله او د امریکا ځانگړي استازي هالبروک یې پر وړاندې عملاً د جگړې اعلان وکړ.

دوی امریکایي سناتور ډانا روراباکر افغانستان ته رواستلو، هغه د افغانستان شمال ته سفرونه وکړل او هلته یې له پخوانیو تنظیمي جگړه مارو ټوپکیانو (محقیق، دوستم، عطا نور او ضیا مسعود) سره ملاقاتونه وکړل. مگر کرزي د امریکا دښمني او جگړه واخیستله، ولې د افغانستان د فیدرالیزه کولو پر وړاندې کلک ودرېدو.

تر دې وروسته یې په تذکرو کې د ملي هویت (افغانیت) د لیکلو پر سر چې یو څه حل شوې مسئله وه، ډرامه راپورته کړله او دا یې هم د افغانانو د وېشلو تر درشله بدرگه کړله. ولې د افغان ولس مبارزه، هوښیارتیا او روښانتیا د دې شرارت اجازه هم ورنه کړله.

بل لور ته امریکایي سیاستوالو، چارواکو او حتا په امریکا ـ افغان جگړه کې د دوی ښکېلو نظامي قومندانانو وخت نا وخت د ډیورنډ مصنوعي، کاذبې او فرضي کرښې د رسمیت پېژندلو په برخه کې خورا له استعماري دریځه ډکې خبرې کولې. داسې چې په مختلفو اسنادو او د دوی له بربنډو شویو نظامي نقشو څخه مالومېږي، چې د ډیورنډ کرښه چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ یوه جنجالي قضیه او د افغان ولس په گډون، هېڅ افغان حکومت هغه په رسمیت نه پېژني، دوی رسمي کرښه یاده کړې او زموږ دغه ملي مسئله یې یو حل شوی بحث گڼلی.

گډ افغان حکومت چې د ټرمپ د لسو میلیونو افغانانو د وژلو په خبره غلی دی، د جوبایډن د دې خبرو پر وړاندې هم چوپ دی. حال دا چې کله امریکایي ولسمشر د سهیلي اسیا په نوم د افغانانو د وژلو پرېکړه اعلان کړه او یا یې په دې نږدې وخت کې د سولې خلاف د جگړې او افغان وژنې د دوام ټټر وډباوه، دوی په شپېو او دقیقو کې له هغه خپل ملاتړ اعلان کړ او د ټرمپ د سولې ضد ټویټ سره خو یې په ارگ کې د تبله چیانو او دمبره بازانو محفل هم رابللی و.

زما مخاطب د گران وطن د اصلي وارث او رښتیني متولي په توگه د مور وطن په دغه حساس تاریخي دور کې افغان ولس دی، هغه ولس چې نه دویم پاسپورت لري، نه ناموس فروش او نه د ابن غلامانو واکمنۍ مني.

ولس او د افغان ولس مبارزه کتله ځوانان باید د جوبایډن دا خبرې وغندي او د ځان او تاریخ ژغورلو ډگر ته چې د جوبایډن او مکناټن د پردو لښکرو شړل دي، راودانگي او د سولې د درېدلو مذاکراتو د بیا پیل لپاره لاریونونه او ولسي فشارونه زیات کړي.

سیاسي گوندونه او ولس محوره جوړښتونه باید له ځانچارو کړنو، ورځنیو سوداگریو تېر او لکه گاندي او نلسون منډېلا د ولي له داعیې پر دفاع زندانونو ته د تگ چمتووالی دې ونیسي.

افغان ولس د دویم انتخاب په نوم له مرگه چې ذلت او د خپل تاریخ مسخه ده، نور هېڅ هم په خپل واک کې نه لري.

راځئ د جوبایډن خبرې د دوی د مکناټنې لښکرو په شړلو او له سولې د ملاتړ له لارې عملاً وغندو.

## ټاکنو کمېسیون: په ناامنو سیمو کې به ټاکنیز مرکزونه تړلي وي



د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویلي، په هغو سیمو کې به چې امنیتي وضعیت پکې ترینگلی دی، ټاکنیز مرکزونه تړلي پاتې شي.

دا په داسې حال کې ده چې تېر کال د ولسي جرگې په ټاکنو کې د ناامنۍ او ځینو نورو دلیلونو له کبله غزني په بشپړ ډول له ټاکنو پاتې شو.

خو د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویاند ویلي چې دا ځل به هېڅ ولایت په بشپړه توگه له ټاکنو پاتې نه شي.

د کمېسیون ویاند عبدالعزیز ابراهیمي ازادي راډیو ته ویلي: «هغه ولایتونه چې امنیتي وضعیت یې ښه نه دی، مثلاً په کندوز، تخار، اروزگان، نیمروز او فراه کې به ځینې مرکزونه تړلي پاتې شي، موږ نه غواړو چې د خلکو او خپلو کارکوونکو ژوند له گواښ سره مخامخ کړو».

خو نوموړي ټینگار کړی چې د ټاکنو تر سره کولو ته تیار دي او غواړي په دې توگه پر دې ډیموکراټیکه پروسه د ولس باور سم کړي.

دا په داسې حال کې ده چې اوسمهال د ټاکنو خپلواک کمېسیون په ټول هېواد کې۵۳۷۳ ټاکنیز مرکزونه تثبیت کړي دي.

خو د کمېسیون ویاند د کورنیو چارو وزارت په حواله ویلي چې له یادې شمېرې مرکزونو به ۴۳۱ ښایي تړلي پاتې شي او په پاتې نورو مرکزونو کې به ټاکنې وشي.

هغه دغه راز زیاته کړې چې تر گواښ لاندې سیمو کې هم د ټاکنو د تر سره کولو لپاره ټول تخنیکي مواد برابر دي او که د کورنیو چارو وزارت له لوري ډاډ ورکړل شي، دوی کار کولی شي.

د هغه په خبره، هر ټاکنیز مرکز ته په بایومټریک سیستم د رایې ورکوونکو د معلوماتو د ثبت دوه ماشینونه استول کېږي، چې له یوه به استفاده کېږي او بل به د احتیاط لپاره ساتل کېږي.

دا په داسې حال کې ده چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون نږدې ۱۷ زره نوي بایومټریک دستگاوې رانیولې، چې له پخوانیو ۲۲ زرو هغو سره یې شمېر ۳۹ زره ته رسېږي.

د یادولو وړ ده چې د ولسي جرگې په تېرو ټاکنو کې هم په دغو دستگاوو کې بېلابېلې ستونزې موجودې وې.

خو د ټاکنو خپلواک کمېسیون دا مهال ډاډ ورکوي چې په ولسمشریزو ټاکنو کې د دغو دستگاوو ستونزه هواره شوې ده.

د ټاکنو د خپلواک کمېسیون ویاند زیاته کړې چې د ۴۰ او ۴۵ زرو ترمنځ کارکوونکي یې روزلي، چې کولی شي د بایومټریک معلوماتو د ثبت له ځانگړو ماشینونو کار واخلي.

# دوه زره کلنه دوستي

لیکوال: شي مونګ د چین نړیوالې راډیو د پښتو څانګې مشر

د چین د رسمي تاریخي یادښت له مخې، دوه زره کاله دمخه یانې د چین د هان امپراطورۍ سلسلې د وخت امپراطور په استازیتوب، جانګ چیان د افغانستان له مزارشریف ښار څخه لیدنه کړې وه. دغه سفر په تاریخ کې د وریښمو لارې د پیل سبب هم شوی دی. ویل کیږي چې له څه دپاسه دوو زرو کلونو راهیسې د نړیوالو او کورنیو حالاتو له بدلونونو سره سره، د چین او افغانستان ترمنځ دوستي په دوامداره توګه ساتل شوې ده. دغه څه په نړیوال تاریخ کې کم تر سترګو شوي دي. چینایان له خپلو ګاونډیو سره په تېره بیا له افغانستان سره ښه ګاونډیتوب ته درناوی کوي، ځکه چې دغه اړیکې د متقابل درناوي او ګډو ګټو پر اساس جوړې شوې دي.

د وریښمو لارې اغېزه تر اوسه پورې لاهم د دغې لارې په اوږدو کې د مېشتو خلکو په ورځنۍ ژوند کې لیدل کیږي. د بېلګې په ډول: بادرنګ، سره بانجان، انګور او انار چې د چینایانو د ورځنیو خوړو یوه نه جلا کېدونکې برخه ګرځېدلې ده، له دغې تاریخي لارې څخه چین ته داخل شوي وو. د دې ترڅنګ، د اوسني افغانستان په ګندهارا سیمه کې په بودایي کلتور کې د هند، یونان، فارس، روم او منځنۍ اسیا سبکونه ګډ شوي وو، چې اوس د ګندهارا بودایي کلتور په نامه یادېږي. ګندهارا سبک د چین بودایي کلتور تر ډېرې اندازې پورې اغېزمن کړی و، چې په چین کې د ډېرو بودایي مجسمو له سبک څخه دغه څه څرګندېږي.

سږنی کال د دواړو هېوادونو لپاره له ستر اهمیت څخه برخمن دی. سږ کال د افغانستان د خپلواکۍ د بېرته اخیستلو سلمه کالیزه او د چین د ولسي جمهوریت د جوړېدو اویایمه کالیزه هم ده. چینایان دا نه هېروي، کله چې په ۱۹۴۹ ز کال کې د چین ولسي جمهوریت تازه جوړ شو، افغان حکومت یې په لومړي وخت کې د رسمي پېژندلو اعلان وکړ او دواړو خواوو په ۱۹۵۵ ز کال کې رسمي ډیپلوماتیکې اړیکې ټینګې کړې دي. چین د افغانستان د ګاونډي په توګه تل د دغه هیواد له بیارغوني څخه ټینګ ملاتړ کړی او کوي یې چې په بېلابېلو برخو کې یې تر وسې پورې افغانستان ته مرستې برابرې کړې دي او کوی یې. چین غواړي له افغانستان سره خپلې انکشافي تجربې شریکې کړي. هر کال ډېر افغان همکاران په سیمینارونو او کورسونو کې د ګډون لپاره له چین څخه لیدنه کوي او د ابتدایي شمېرنې له مخې، اوس څه دپاسه شپږ سوه محصلین د چین په بېلابېلو پوهنتونونو کې زده کړې کوي.

د دواړو هېوادونو تر منځ سوداګرۍ هم وده کړې ده. چین د ۲۰۰٦ ز کال په جولای میاشت کې اعلان وکړ چې له افغانستان څخه پر کابو درې سوه ډوله صادراتي تولیداتو هېڅ ګمرکي مالیات به وانه خلي. د تېر کال په نوامبر کې د افغانستان او چین ترمنځ لومړنۍ هوايي ترانسپورټي لار پرانیستل شوه چې له دې لارې د افغانستان دوه زره ټنه جلغوزي چین ته رسېدلي او پلورل شوي دي. د دې ترڅنګ، د افغانستان د زعفرانو، بادامو او ممیوز په ګډون، د اړوندو ځانګړو تولیداتو د صادراتو د چمتووالي کارونه هم روان دي. چین اوس د افغانستان درېیم لوی تجارتي همکار دی. تېر کال چین ته د افغانستان صادراتي ارزښت ۳۰ میلیونو امریکایي ډالرو ته ورسېد چې دغه رقم به مخ پر زیاتېدو وي. د خبر له مخې، په دې وروستیو ورځو کې له افغانستان څخه چین ته د مالونو لېږدوونکې لومړنې اورګاډي حرکت کړی دی. چینایان د دې هرکلی کوي چې په بازارونو کې لازیات افغان ځانګړي تولیدات وویني.

دا مهم کار دی چې لازیات افغانان په چیني ژبه زده کړه کوي او لازیات چینایان هم په پښتو او دري ژبو زده کړه کوي. په ۱۹۵۹ ز کال کې د چین حکومت افغانستان ته د پښتو او دري ژبو د زده کړې لپاره محصلین ورلېږلي وو او په ۱۹۷۳ ز کال کې د چین پښتو راډیویي خپرونې شروع شوې دي. له ۲۰۰۸ ز کال راهیسې د کابل پوهنتون له کنفوسیوس پوهنځي یانې د چیني ژبې له څانګې څخه سلګونه محصلین فارغ شوي دي. ژبه د کتلور نښه ده او د کلتور متقابله پېژندنه د خلکو زړونه نږدې کوي.

د چین او افغانستان ترمنځ دوستي د دوو زرو کلونو له ارزونې څخه تېره شوې ده. دوستي مو صادقانه ده، ځکه چې چین او افغانستان یو او بل ته بد نیت نه لري. چین په افغانستان کې هېڅ شخصي ګټه هم نه لري. دوستي مو ټینګه ده، ځکه چې دا د دواړو هیوادونو د خلکو ګډه هیله ده. چین د افغانستان په کورنیو چارو کې هم هېڅ لاسوهنه نه کوي. دواړې خواوې یو د بل احترام کوي او له خپلو واقعیتونو سره سم، بېل ټولنیز سیسټمونه او انکشافي لارې انتخابوي. دوه زره کاله دمخه افغانستان د وریښمو لارې په اوږدو کې یوه ځلانده ملغلره وه. کله چې چین د یو کمربند او یوې لارې وړاندیز مطرح کړی، افغان خوا له دغه انکشافي وړاندیز سره د پیوستون هیله په واضح توګه څرګنده کړې ده او غواړي د اسیا زړه او د اسیا- اروپا د ځمکنې پل رول ولوبوي. چین هم هیله لري چې په افغانستان کې دایمي سوله او ارامتیا ژر تر ژره رامنځته شي. چین به د تېر په شان د افغانانو تر مالکیت او مشرۍ لاندې له سوله ییز بهیر څخه ټینګ ملاتړ کوي؛ ځکه هېڅوک نه غواړي چې د ګاونډي په کور کې یې د جنجالونه وي.

# د مذاکراتو تر درېدو وروسته؛

## جګړه شدیده شوې او طالبان وايي چې سل کاله نوره هم جګړه کولی شي




افغان سوله له نامعلوم برخلیک سره مخ ده، خو د جګړې ښکېلې خواوو د یو بل د سخت ځپلو خبره کوي. تازه د طالبانو یو پلاوی روسیې ته تللی دی او هلته یې د حکومت او بهرنیو ځواکونو پر ضد د جګړې پر شدت ټینګار کړی. دلته افغان حکومت ویلي چې په تېرو څو ورځو کې یې زر کسه طالبان د هېواد په بېلو ولایتونو کې وژلي دي. بلخوا د افغان جګړې ځینې ښکېلې خواوې، لکه ناټو او امریکا وايي، مذاکرات په بشپړه توګه نه دي مات شوي؛ بلکې بیا پیلېدو ته یې هیله مندي شته ده.

تازه طالبانو په مسکو کې په خپلو څرګندونو کې ویلي چې دوی سل کاله نور هم په افغانستان کې جګړه کولی شي. د روسي تاس خبري اژانس د راپور له مخې، د دغه ډلې د قطر دفتر د مرکچي پلاوي غړي شېرعباس ستانکزي ویلي، طالبان لا هم له امریکا سره د سولې خبرو ته لېوالتیا لري، خو که امریکا جګړه وکړي، نو دوی سل کاله په افغانستان کې جګړه کولی شي. د ستانکزي په خبره، امریکا د سولې په اړه پر خپلو خبرو وفا ونه کړه، خو که د سولې خبرې بیا پیلېږي، طالبان ټولو هغه مواردو ته ژمن دي چې له امریکا سره هوکړې ته ورباندې رسېدلي وو.

د طالبانو د قطر دفتر ویاند سهیل شاهین هم وايي چې دوی له روسیې سره پر مهمو مسایلو خبرې کړې دي. هغه په خپلو دوو وروستیو مرکو کې ویلي چې د سولې له روان بهیره په بشپړه توګه ناهیلي شوي نه دي او تمه شته چې دا لړۍ بیا پیل شي. د طالبانو پلاوي په مسکو کې د افغانستان لپاره د روسیې د ولسمشر له ځانګړي استازي ضمیر کابلوف سره هم کتلي دي. دوی پر سوله او په افغانستان کې پر روان وضعیت خبرې کړې دي.

دلته افغان حکومت بیا مسکو ته د طالبانو پر سفر غبرګون ښودلی دی. د ولسمشر غني ویاند صدیق صدیقي وايي، مسکو ته د طالبانو سفر د دغه ډلې سیاسي ماتې ښیي او په خبره یې دوی د سولې اصلي آدرس چې افغان حکومت دی، ورک کړی دی. هغه په خپلو خبرو کې دغه راز ویلي چې افغان حکومت د سولې لپاره ټول پلانونه او هڅې درولې دي او ټول تمرکز پر ټاکنو دی. د صدیقي په خبره، دمګړۍ افغان حکومت ته ولسمشریزې ټاکنې لومړیتوب دي او تر ټاکنو وروسته به د سولې هڅې بېرته پیلېږي.

ولسمشر غني هم په کندهار کې د خپلې یوې کمپاینې غونډې پر مهال ویلي چې له طالبانو سره خبرو ته تیار دی او په وینا یې د سولې طرحه د افغان حکومت طرحه ده او نړۍ یې دې ته قانع کړه، چې باید افغان جګړه د خبرو له لارې حل کړل شي. ولسمشر غني پر طالبانو غږ کړی چې د افغانستان په هر ولایت کې دوی غواړي افغان حکومت خبرې ورسره کوي. نوموړي ټینګار کړی چې افغان جګړه یوازې د افغانانو ترمنځ د خبرو له لارې د حل وړ ده. ولسمشر داسې مهال دغه څرګندونې کوي چې دوې ورځې وړاندې یې په یوه غونډه کې په تېرو څو ورځو کې د زرو طالبانو د وژلو ادعا هم وکړه.

ناټو هم په افغانستان کې د روانې جګړې پر سیاسي حل ټینګار کړی دی. د ناټو د پوځي کمېټې رییس سټوارټ پیچ په ویلز کې د یاد سازمان یوې غونډې ته ویلي، ټول په دې پوهېږي چې د افغانستان روانه جګړه نظامي حل نه لري، نو باید د خبرو له لارې ورته د پای ټکی کېښودل شي. پیچ دغه راز زیاته کړې، دوی به د افغان ځواکونو روزنې او ملاتړ ته دوام ورکړي. د نوموړي په خبره، افغان پوځ باید د دې لپاره ښه وروزل شي چې د نړیوال تروریزم پر وړاندې مبارزه کې د ناټو مرستې ته پوره چمتووالی ولري. هغه ویلي، دوی په افغانستان کې د دې لپاره حضور لري، څو د سولې یو غوره فرصت ته لار پرانیزي.

د افغان جګړې او سولې په اړه دغه څرګندونې داسې مهال کېږي، چې په دې وروستیو کې په هېواد کې جګړې شدیدې شوې دي. په دې جګړو کې تر ټولو ډېر زیانونه ملکي وګړو ته اوړي او له دې سره جوخت د ملکي وګړو غبرګونونه هم راپاربدلي دي. دوی د رسنیو له لارې د جګړې پر ښکېلو غاړو غږ کړی چې له جګړو لاس واخلي او سولې ته مخ کړي. د بشري حقونو سازمانونو او فعالینو هم په افغانستان کې د ملکي وګړو پر مرګ ژوبلې اندېښنه ښودلې ده.

# د ترکیې حکومت د ۲۰۱٦ ز کال د ناکامې کودتاه په تړاو د سلګونو پوځیانو د نیولو امر کړی دی




د راپورونو له مخې، ترکي چارواکو په دغه هېواد کې د ۲۰۱٦ ز کال په ناکامې کودتاه کې د لاس لرلو په تړاو د سلګونو نظامیانو د نیولو امر کړی دی.

د ترکیې د آر ټي اي خبري اژانس د خبر له مخې، د دغه هېواد چارواکو د ۲۳۳ هغو پوځي افسرانو او سرتېرو چې ډېری یې د شمالي قبرس اوسېدونکي دي، د نیولو امر کړی دی.

د دغه اژانس د راپور له مخې، په دغو کسانو کې ۱۰۰ تنه یې د ترکیې ځمکني پوځیان، ۴۱ تنه یې د دغه هېواد د هوايي پوځ افسران او سرتېري او ۳۲ تنه یې سمندري پوځیان دي چې د ۲۰۱٦ ز کال په ناکامې کودتاه کې پر لاس لرلو تورن شوي دي.

دا په داسې حال کې ده چې انقرې په امریکا کې مېشت د ترکیې د حکومت مخالف فتیح الله ګولن د ۲۰۱٦ ز کال په ناکامې کودتاه کې پر لاس لرلو تورن کړی، چې د دغه هېواد حکومت بیا بیا له امریکا د نوموړي د ورسپارلو غوښتنه هم کړې ده.

د ترکیې په یادې ناکامې کودتاه کې د دغه هېواد د پوځ یوې لویې برخې هم ګډون درلود، چې له ټانګونو، زغروالو ګاډو او الوتکو سره د دغه هېواد مهمو ښارونو ته راوتلي وو.

د ترکیې د آر ټي اي خبري اژانس د خبر پر بنسټ، د یادې ناکامې کودتاه په دې پېښه کې ۲۵۰ کسان ووژل شول او تر دوو زرو زیات ټپیان شول.

د ترکیې حکومت له دغې ناکامې کودتاه وروسته، د دغه هېواد په پوځ کې پراخ اصلاحات راوستل چې له کبله یې تر دې دمه په یاده کودتاه کې د لاس لرلو په تور ۷۰ زره کسان نیولي او تر ۱۷۰ زرو ډېر یې له دندو ګوښه کړي چې لویه برخه یې د دغه هېواد پوځیان دي.

بلخوا د ترکیې دغو اقداماتو په سیمه ییزه او نړیواله کچه پراخ غبرګونونه هم له ځان سره راوپارول، چې په لړ کې یې څو اروپايي هېوادونو د دغه هېواد حکومت د بشري حقونو او د بیان ازادۍ پر نقض تورن کړ او له اروپايي ټولنې سره د ترکیې د یوځای کېدو پر سر د خبرو د درېدو غوښتنه یې وکړه، چې لا هم د ترکیې او اروپايي هېوادونو ترمنځ دغه ستونزه پر ځای پاتې ده.

## د کتاب خبرې


# پښتانه

## د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

لیکوال: ابوبکر صدیق

ژباړن: اقامحمد قریشي

### درېیم څپرکی
### د طالبانو قدرت




د طالبانو د حکومت د بهرنیو چارو وزیر مولوي متوکل له ډېرو بهرنیو جهادیانو سره کمې اړیکې لرلې. هغه په لفافه کې په یوه پوښل شوي انتقادي انداز پر اسامه بن لادن انتقاد کوي چې څنگه یو عرب فراري د شیخ اسامه بن لادن په نوم د طالبانو له مشرانو سره د زېربنایي، کرنیزو، پرمختیایي او بیا رغوني پروژو ژمنې وکړې. متوکل لیکي: ((کله چې د سعودي چارواکو په وار وار غوښتنې وکړې چې د هغه فعالیتونه به څاري، هغه کندهار ته راوستل شو، خو هغه هېڅ کله پرمختیایي او د بیارغوني کارونه ونه کړل. هغه به د مسلمانانو د یووالي او د افغانانو د مېلمه پالنې په اړه خبرې کولې. هغه به په عربي نړۍ کې د امریکا ضد موضوعاتو په اړه تفصیلي بحث کاوه.))

د وحید مژده په وینا چې کله متوکل د بهرنیو چارو وزیر شو، امر یې وکړ چې د اسامه بن لادن فعالیتونه دې بند شي، خو د هغه له لوري د اسامه بن لادن د رسنیزو بیانیو د محدودولو هڅو طالبان په دوو برخو ووېشل، مژده لیکلي: ((متوکل فکر کاوه چې اسامه او د هغه پلویان د طالبانو مېلمانه وو، خو اوس غواړي چې ټول افغان ملت تباه کړي. د ملا محمدعمر ځانگړي سکرتر طیب اغا او عبدالحی مطمئن د اسامه بن لادن ملاتړ کاوه. وروسته بیا ملا امیرخان متقي کندهار ته لاړ او د اسامه بن لادن او متوکل تر منځ راغلی مخالفت یې پای ته ورساوه.)) له اسامه بن لادن سره د مخالفو طالبانو پر وړاندې به داسې دلایل نه وو چې د اسامه بن لادن د موجودیت گواښونه یې بیان کړي وای.

متوکل په ډېرو هغو غونډو کې گډون وکړ چې د اسامه بن لادن د برخلیک په اړه به کېدې. نوموړی وایي چې طالبانو ډېرې لارې وړاندیز کړې، خو د واشنگټن له لوري رد شوې، ځکه هغوی یوازې اسامه بن لادن غوښت. متوکل راته وویل: ((زموږ له وړاندیزونو یو دا و چې یوه اسلامي محکمه چې درې اسلامي هېوادونه پکې ښکېل وي، د اسامه دوسیه واوري. که محکوم شو، باید جزا ووینې. بل وړاندیز دا و چې هغه دې د اسلامي هېوادونو د کنفرانس تر مشرۍ لاندې وساتل شي.))

متوکل وایي د امریکایانو یواځینی ټینگار دوی ته د بن لادن تسلیمېدل وو. نوموړی زیاتوي: ((دا خورا پېچلې وه، ځکه طالبانو د مجرمینو د استرداد هېڅ تړون نه لاره. بل لور، د طالبانو حکومت د واشنگټن له لوري په رسمیت هم نه و پېژندل شوی. د افغانستان او امریکا ترمنځ د اړیکو نه موجودیت لویه ستونزه جوړه کړه. د طالبانو مشرانو هېڅکله له ځواکمنو دلایلو پرته اسامه بن لادن او د هغه ملگري له افغانستان څخه نه شړل، ځکه هغوی له روسانو سره د جهاد پر مهال قرباني ورکړې وې. هغوی مسلمانان وو او هېڅکله یې د اسلامي امارت قوانین تر پښو نه وو لاندې کړي.))

د طالبانو او نړیوالې ټولنې تر منځ لوی واټن و چې په پایله کې د افغانستان برخلیک تحریک ته ور پاتې و. طالبانو او شمالي ټلوالې په وار وار په خپلو کې د جگړې پر مهال د ملگرو ملتونو د امنیت شورا غوښتنې او اعلامیې تر پښو لاندې کړې وې. پر دې سربېره چې طالبانو د افغانستان پر ډېرې جغرافیه کنټرول لاره، خو بیا هم ملگرو ملتونو د هغوی حکومت په رسمیت نه و پېژندلی، په ملگرو ملتونو کې لا هم د افغانستان څوکۍ د برهان الدین رباني ادارې ته ورکړل شوې وه. د طالبانو د ډیپلوماتیکو اړیکو تشې او د حکومت اختلافي پالیسیو هغوی له ملگرو ملتونو او د لوېدیځ له مرستندویه سازمانونو سره په ټکر کې راوستي وو، ځکه یې ملگري کم وو.

د ۱۹۹۸ز کال د اگسټ پر ۲۸مه، یو این ټکی، د ملگرو ملتونو د امنیت شورا ۱۱۹۳مه گڼه پرېکړه لیک و. په دې پرېکړه لیک کې لیکل شوي وو: ((نړیواله ټولنه د افغانستان په خاوره کې د ترهگرو د موجودیت له کبله ژوره اندېښنه لري.)) ۱۲۱٤مه گڼه پرېکړه لیک په ډسمبر کې وړاندې شو، په دې پرېکړه کې لیکل شوي وو: ((د ملگرو ملتونو امنیت شورا ته د افغانستان له خاورې، په ځانگړي توگه له هغو سیمو چې د طالبانو په کنټرول کې دي، د ترهگرو د روزنې، پټنځایونو او پلان جوړونې، سرخوړی جوړ کړی دی.))

وروسته له هغې چې د ملگرو ملتونو د امنیت شورا ونه توانېده، طالبان بدل کړي، بندیزونه یې پرې ولگول. امنیت شورا د ۱۹۹۹ز کال په اکټوبر کې ۱۲٦۷مه گڼه پرېکړه لیک خپور کړ، په دې پرېکړه لیک کې امنیت شورا له طالبانو غوښتي وو چې په ۱۹۹۸ز کال په اگسټ میاشت، په افریقا کې د امریکا پر سفارتونو د بریدونو په تور باید اسامه بن لادن هغوی ته تسلیم کړي. د دې پرېکړه لیک له مخې یوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه چې د القاعدې او طالبانو د ټولو غړو، د هغو کسانو او حکمي شخصیتونو لېست جوړ کړي چې له القاعدې سره اړیکې لري او پر طالبانو او القاعدې د لگېدلو بندیزونو څار هم وکړي. یاده کمېټه تر اوسه هم فعاله ده. په دې پرېکړه لیک کې د ملگرو ملتونو له غړو هېوادونو غوښتل شوي وو چې په دې لېست کې شاملو کسانو سره دې هېڅ ډول راکړه ورکړه نه کوي او هغوی دې له سفرونو منع کړي. پر دې کسانو یې د هر ډول وسلو او تخنیکي همکارۍ بندیز ولگاوه.

دوام لري...

# خاتم النبیین پوهنتون

حمیدالله حمیدي

خاتم النبیین خصوصي پوهنتون خپل لومړني کارونه په ۱۳۸٦ لمریز کال کې د ښاغلي ایات الله محسني په مشرۍ پیل کړل، چې په رسمي ډول یې په ۱۳۸۷ لمریز کال کې په خپل یوه پوهنځي (حقوق او فقه) کې محصلین جذب کړل او په عملي ډول یې زده کړې پکې پیل کړې. د دغه پوهنتون له بېلابېلو پوهنځیو څخه په زرگونو کسان د لېسانس په کچه فارغ او د هېواد ابادۍ ته یې ور دانگلي دي. د خاتم النبیین پوهنتون علمي او تدریسي مرستیال ښاغلی مکارم ناصري بختیاري وایي، اوسمهال خاتم النبیین پوهنتون لس پوهنځي ( اقتصاد، انجنیري، طبي ټکنالوژي، معالجوي طب، د غاښونو طب، ټولنیز علوم، سیاسي علوم، فقه او حقوق، قابلگي او کمپیوټر سایسن) او ۲۱ ډیپارټمنټونه لري.

د ښاغلي بختیاري په خبره، خاتم النبیین پوهنتون د مرکزي ځانگې تر څنگ، د غزني ولایت په مرکز او جاغوریو ولسوالۍ کې هم یوه یوه څانگه لري. دی وایي، اوسمهال خاتم النبیین پوهنتون په خپلو دریو څانگو او لسو پوهنځیو کې د ٤۸۳۸ په شاوخوا کې محصلین لري، چې څلوېښت سلنه یې نجونې او شپېته سلنه یې نارینه دي. په دې کې د ماسترۍ د برخې محصلین هم شامل دي. د بختیاري په خبره، د معیارونو تر پوره کولو وروسته یې لومړی له موسسې څخه پوهنتون ته ارتقا وکړه او بیا یې ټول هغه شرایط او معیارونه پوره کړل، چې یو پوهنتون یې باید د ماسترۍ پروگرام لپاره ولري. دی وایي، خاتم النبیین پوهنتون اوسمهال په دریو برخو (نړیوالو اړیکو، نړیوالو حقوقو او د جزا حقوقو) په برخه کې د ماسترۍ پروگرامونه هم لري. چې په دې برخه کې همدا اوس عملاً ۵۰۰ محصلین پر زده کړو بوخت دي.

خاتم النبیین پوهنتون تر اوسه پورې له بېلابېلو پوهنځیو څخه اته دورې محصلین فارغ کړي، چې شمېر یې ۳۹۰٦ کسانو ته رسېږي. د دغه پوهنتون علمي او تدریسي مرستیال ښاغلی مکارم ناصري بختیاري وایي، له دې ډلې ۲٤۰۱کسه د کابل له څانگې، ۱۰۳۷ د غزني له څانگې او ۵۰ کسان هم د جاغوریو له څانگې چې نوې تاسیس شوې ده فارغ شوي، چې اوسمهال د هېواد په بېلابېلو دولتي او خصوصي ادارو کې پر ندو بوخت دي. ښاغلی بختیاري وایي، له ماسترۍ پروگرامو څخه یې هم د ۳۰۰ په شاوخوا کې محصلین فارغ کړي دي.

د ښاغلي بختیاري په خبره، د لوړو زده کړو وزارت له قوانینو او معیارونو سره سم او خپلو امکاناتو ته په کتو، هر کال او په هر څانگه کې بېل بېل جذب لري. دی وایي، لوړو زده کړو وزارت اوس د خصوصي پوهنتونو د طب پوهنځیو او ماسترۍ په پروگرامونو کې د جذب ټاکلې شمېره لري، چې خصوصي پوهنتونونه یې په عملي کولو مجبور دي. دغه پوهنتون د تخفیف په برخه کې بېلابېلې کټگورۍ لري، چې له مخې یې ممتازو، بېوزلو، د شهیدانو او معلولینو وارثانو او هغو کسانو لپاره ځانگړی تخفیف په پام کې لري، چې څو کسان له یوې کورنۍ څخه په دې پوهنتون کې زده کړې کوي. تر څنگ یې هغو کسانو ته هم ځانگړی تخفیف ورکوي، چې له لوړو زده کړو وزارت څخه دوی ته ور معرفي شوي وي. ښاغلی بختیاري وایي، د اطلاعاتو او کلتور وزارت تر څنگ له ځینو نورو ادارو سره هم هوکړې لري، چې له مخې یې ور معرفي شوي کسان په خاتم النبیین پوهنتون کې په یو څه تخفیف لوړې زده کړې کولی شي. بختیاري وایي، داسې کسان یې هم په پوهنتون کې شته چې په سل سلنه تخفیف یا وړیا زده کړې کوي. خاتم النبیین پوهنتون د ورځې په دریو وختونو لکه د سهار له اتو د غرمې تر ۱۲، د ماسپښین له یوې د مازدیگر تر څلورو او د شپې لخوا محصلین د زده کړو لپاره ورغواړي.

د دې پوهنتون علمي او تدریسي مرستیال وایي، د ځینو پوهنځیو لکه طب، تدریسي ساعتونه پکې توپیر کوي، چې له نورو پوهنځیو څخه پکې یو یا دوه ساعته زیات تدریس کېږي او د ماسترۍ په پروگرام کې یې بیا تر ډېره د شپې لخوا تدریس کېږي. په خاتم النبیین پوهنتون کې د تدریس چارې د ٦۵ استادانو لخوا مخ ته وړل کېږي، چې دېرش سلنه یې د دوکتورا او پاتې نور یې ټول د ماسترۍ تر کچې پورې لوړې زده کړې لري. بختیاري وایي، له دې ډلې ۱۵ سلنه یې ښځینه استادانې دي.

د خاتم النبیین پوهنتون علمي او تدریسي مرستیال وایي، په کور د ننه او بهر کې له پوهنتونو او ځینو نورو بنسټونو سره علمي اړیکې او هوکړې لري. دی وایي، له کورنیو پوهنتونونو سره نیکې اړیکې لري، چې تر څنگ یې د کابل او غزني ښارونو له روغتونونو او نورو اړوندو ادارو سره د هوکړې له مخې، د دوی ډېر محصلین په دې روغتونونو کې عملي زده کړې کوي او د سه تاج دورې مخ ته وړي.

ښاغلی بختیاري وایي، په هند، ایران، بنگلدېش او مالیزیا کې هم له ځینو پوهنتونونو او روغتونونو سره د ځینو هوکړو له مخې، همدا اوس د دوی ډېر محصلین هلته نورې لوړې زده کړې کوي او د طب پوهنځی فارغ شوي محصلین یې د سه تاج دورې بشپړوي. دغه راز له دې پوهنتونونو او نورو اړوندو ادارو سره وخت ناوخت ناستې کوي او په علمي سیمینارونو کې یې گډون کوي.

بختیاري وایي، دا چې دوی ټول هغه معیارونه چې لوړو زده کړو وزارت ورته په بېلابېلو برخو کې ټاکلي وو، پوره کړي، نو د هغو خصوصي پوهنتونونو په ډله کې راځي چې د رسمي دولتي ډیپلومونو وېش پکې پیل شوی دی. دی وایي، تر اوسه پورې یې ۳٤ کسانو ته دغه ډول ډیپلومونه وېشلي او د پاتې نورو فارغ شویو محصلینو لېست یې لوړو زده کړو وزارت ته سپارلی چې د کارونو تر ارزولو وروسته به پاتې کسانو ته هم د لوړو زده کړو وزارت لخوا تایید شوي دولتي ډیپلومونه ورکړل شي. نوموړی وایي، هغه کسان چې له خاتم النبیین پوهنتون څخه فارغېږي، لوړو زده کړو وزارت ورته یوه تصدیق پاڼه ورکوي، چې محصلین کولی شي په وسیله یې د ماسترۍ پروگرام تعقیب کړي او یا هم په کومه اداره کې پرې دنده واخلي.

خاتم النبیین پوهنتون د اونیزو او میاشتنیو ورکشپانو او کورسونو تر څنگ، د خپلو محصلینو لپاره د څېړنو مرکز او په ځانگړې توگه د طب پوهنځي د محصلینو لپاره د خاتم النبیین په نوم کادري روغتون هم لري، چې محصلین پکې عملي زده کړې کوي. ښاغلی بختیاري وایي، د روغتون تر څنگ محصلین کولی شي د دوی په تحقیقي مرکز کې په ډېرې اسانۍ سره خپل مونوگراف او تېزېس هم ولیکي او خپلو څېړنو ته دوام ورکړي. تر څنگ یې د محصلینو لپاره پراخ او غني کتابتون هم جوړ کړی، چې د پوهنځیو اړوند علمي او تخصوصي کتابونه پکې په سافټ او هارډ دواړو ډولونو موجود دي.

د خاتم النبیین پوهنتون اداره د خپل ستراتیژیک پلان له مخې غواړي د معیارونو تر پوره کولو وروسته، د پوهنتون په چوکاټ کې د دوکتورا پروگرام رامنځته او د هېواد لویو ولایتونو لکه، هرات او مزارشریف ته د خپل پوهنتون او روغتون څانگې وغځوي. بختیاري وایي، اوسمهال په ډېره لوړه کچه او ملا ماتوونکې مالیه دولت ته ورکوي، چې په خبره یې د دوی د پرمختگ مخه یې یو څه ډب کړې ده. نوموړی له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي چې د مالیاتو په کمښت کې ور سره مرسته وکړي، څو پر خپلو پښو ودرېږي او د یوه تړون له مخې د پوهنتون لپاره مناسب ځای ورکړي. د دې تر څنگ، مکارم بختیاري وایي چې دولتي روغتونونه ور سره همکاري نه کوي. دی له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي چې په دولتي روغتونونو کې یې د طب پوهنځي د محصلینو لپاره د عملي زده کړو زمینه برابره شي. د ده په خبره، له دې وړاندې یې هم په دې برخه کې ځینې غوښتنې کړې دي، خو تر اوسه ورته مثبت ځواب نه دی ویل شوی.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۲۰ |
| € | ۸۸,۳۰ |
| Rp. | ۴۹۷ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۱۰ |
| £ | ۹۶,۵۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# ٦ علت بیدار شدن از خواب در شب و راه‌های درمان آن

**ترجمه: داکتر اکبر انوش**

بیدار شدن از خواب در شب مسئله‌ای است که عدهٔ نسبتاً زیادی با آن دست و پنجه نرم می‌کنند. در آمریکا روی ۸۹۳۷ نفر تحقیقی دربارهٔ کیفیت خواب‌شان صورت گرفت. طبق نتایج این تحقیقات، چیزی حدود یکی سوم شرکت‌کنندگان حداقل سه شب در هفته، در میانه خواب بیدار می‌شدند و بیش از ۴۰ درصد این افراد، برای خوابیدن دوباره به مشکل برمی‌خوردند. شاید از موهبت داشتن خواب راحت شبانه بهره‌مند باشید، اما اگر این‌طور نیست، در ادامه این مطلب با ما همراه باشید. در ادامه ٦ علت بیدار شدن از خواب در شب را برخواهیم شمرد. راهکارهایی هم برای رهایی از آنها در اختیارتان خواهیم گذاشت.

**۱. بیش از حد گرم، سرد، پر سروصدا یا روشن بودن اتاق**

«آستانه برانگیختگی» اصطلاحی است که به میزان سادگی یا دشواری بیدار شدن ما از خواب اشاره دارد. این آستانه برای هرکس بسته به مرحله خواب متفاوت خواهد بود. خوابیدن ۴ مرحله دارد و پس از آنکه به خواب می‌رویم، به مرور بدن از یکایک این مراحل عبور می‌کند. البته بعضی‌ها ۳ مرحله برای خواب در نظر می‌گیرند.

همانطوریکه احتمالاً می‌توانید حدس بزنید، مرحله اول خواب به سبک‌ترین حالت خواب اختصاص دارد. در این مرحله، اتفاقی مثل محکم بسته شدن در یا افتادن نور موتر روی پنجره اتاق می‌تواند از خواب بیدارمان کند. عواملی محیطی دیگر مثل بیش از حد گرم یا سرد بودن اتاق هم می‌توانند باعث بیداری‌مان در این مرحله شوند.

درحالت ایدئال، وقتی می‌خواهیم بخوابیم، اتاق باید کاملاً تاریک و بی‌سروصدا باشد. عامل مهم دیگر دمای اتاق است که باید متعادل و مناسب باشد. بیشتر ما امکان به وجود آوردن این شرایط ایدئال را نداریم، اما کارهایی از دست‌مان برمی‌آید که برای داشتن خواب بهتر می‌توانیم انجام بدهیم. مثلاً، می‌توانیم از گوش‌گیر و چشم‌بند استفاده کنیم یا پنکه‌ای برای خنک کردن اتاق فراهم کنیم.

**۲. اضطراب**

اضطراب عامل مهم و تأثیرگذار دیگری است که باعث بیدار شدن از خواب در شب می‌شود. بی خوابی یا دشوار شدن به‌خواب رفتن یکی از شایع‌ترین نشانه‌های اختلال اضطراب است. پیامدهای این اختلال هستند که باعث می‌شوند میانه شب از خواب بپریم: پیامدهایی مثل بالا رفتن شدید ضربان قلب یا کابوس دیدن.

دسته دیگری از افراد هستند که گاه به گاه شب‌ها حملات پانیک را تجربه می‌کنند. این حملات هم می‌توانند به‌سادگی از خواب بیدارمان کنند و خواب شبانه را مختل کنند.

در صورت تجربه چنین مسائلی حتماً باید با داکتر متخصص مشورت کنید. او با دانش و تجربه‌ای که دارد، به ریشه اضطراب و حملات یادشده پی خواهد برد و راهکار درمانی مناسب را توصیه خواهد کرد. رفتار درمانی شناختی (CBT) و استفاده از دارو دو راهکار درمانی معمول برای غلبه بر اضطراب هستند؛ گاهی هم از هر دو روش به‌طور هم‌زمان استفاده می‌شود.

مدیتیشن و تکنیک های تنفسی هم برای کاهش اضطراب مؤثر هستند.

**۳. پر بودن مثانه و اختلال شب‌ادراری**

شب ادراری اختلالی است که مبتلایان به آن، شب‌ها دست‌کم یک بار برای استفاده از دست‌شویی بیدار می‌شوند. البته بعضی از متخصصان بر این باورند که با یک بار بیدار شدن، نمی‌توانیم بگوییم کسی مبتلا به این اختلال است و تعداد دفعات باید بیشتر باشند. شب‌ادراری اختلال نسبتاً شایعی است. طی یکی از تحقیقاتی که در این باره روی ۸۵٦ نفر صورت گرفت، مشخص شد که از میان این افراد، ۲۳ درصد زنان و ۲۹ درصد مردان مبتلا به شب‌ادراری هستند.

مصرف بیش از اندازه مایعات پیش از خواب، عفونت ادراری و بیش‌فعالی مثانه از جمله علل رایج شب‌ادراری هستند. دیابت نوع ۱ و دیابت نوع ۲ هم اگر درمان نشوند، ممکن است علل دیگر این اختلال باشند. وقتی قند خون بیشتر از حالت عادی باشد، بدن مایعات موردنیازش را از بافت‌ها بیرون می‌کشد. به‌دنبال آن، احساس تشنگی می‌کنیم و بیشتر مایعات مصرف می‌کنیم که به‌احتمال زیاد تکرر ادرار در پی دارد.

اگر با کم کردن مصرف مایعات از عصر به بعد، بهبودی در کیفیت خواب شبانه احساس نکردید و باز هم بیدار شدید، بهتر است با داکتر متخصص مشورت کنید و علت مسئله را جویا شوید.

**۴. مصرف نوشیدنی الکولی قبل از خواب**

با وجود اینکه مصرف نوشیدنی الکولی به‌خواب رفتن را آسان‌تر می‌کند، نظم معمول و حالت متعادل خواب را به‌هم می‌زند. نوشیدنی الکولی به روش‌های مختلف توالی و تعادل مراحل مختلف خواب را که پیش‌تر راجع به آن گفتیم تحت‌تأثیر قرار می‌دهد. مثلاً، باعث می‌شود که در نیمه دوم خواب شبانه، بیشتر در همان مرحله اول از خواب باقی بمانیم که امکان بیدار شدن به‌واسطه عوامل محیطی در آن از هر زمانی بیشتر است.

تأثیر الکول بر بدن، بسته به عواملی چون جنتیک، تغذیه، وزن و حجم بدن می‌تواند متفاوت باشد. به همین خاطر، رعایت کردن تعادل در مصرف آن برای هرکس متفاوت خواهد بود و به عوامل یادشده بستگی خواهد داشت. اما بطور کلی متخصصان توصیه می‌کنند که دست‌کم تا سه ساعت قبل از خواب، از مصرف نوشیدنی الکولی خوداری شود. نوشیدن آب و مایعات دیگر هم تا حدودی می‌تواند اثر الکول را بر بدن خنثی کند.

**۵. آپنه خواب**

اگر شب‌ها یک دفعه از خواب می‌پرید و احساس تنگی نفس می‌کنید، احتمالاً به آپنه خواب مبتلا شده‌اید. این اختلال چگونگی نفس کشیدن به‌هنگام خواب را تحت‌تأثیر قرار می‌دهد و سبب کند شدن یا به‌طور کلی بند آمدن تنفس می‌شود.

این اختلال چند نوع مختلف دارد که در ادامه به‌طور مختصر به آنها اشاره می‌کنیم: نوع اول آپنه خواب انسدادی است که در آن عضلات گلو بیش از حد شل می‌شوند و مجرای تنفسی را تنگ می‌کنند. در پی این مسئله، ورود اکسیجن به بدن محدود می‌شود. نوع دیگر، آپنه خواب مرکزی است که در آن مغز امکان فرستادن سیگنال‌های مناسب را به عضلات کنترل‌کننده تنفس پیدا نمی‌کند. نوع آخر هم آپنه خواب مختلط نام دارد که دارای ویژه گی‌های ترکیبی از دو نوع یادشده است.

برای تشخیص اصولی آپنه خواب، لازم است با دستگاه‌های مخصوص خواب شبانه و چگونگی تنفس تحت نظارت قرار بگیرید. شایع‌ترین روش درمانی آپنه خواب استفاده از دستگاه فشار مثبت مداوم راه تنفسی (CPAP) است. این دستگاه نوعی ماسک است که شب روی صورت می‌گذارید و با استفاده از آن می‌توانید مجرای تنفسی‌تان را باز نگه دارید. البته راهکار درمانی بستگی به نظر پزشک متخصص دارد و ممکن است او روش دیگری را توصیه کند.

**٦. پرکاری غده تایروئید**

غده تایروئید عملکرد تعدادی از اندام‌های بدن را کنترل می‌کند. وقتی دچار پرکاری تایروئید می‌شویم، اتفاقی که می‌افتد این است که ترشح هورمون تایروکسین بیش از حد معمول می‌شود. ترشح زیاد این هورمون به مرور زمان اثرات مخربی روی قسمت‌های مختلفی از بدن می‌گذارد. از جمله علائم رایج پرکاری تایروئید می‌توان به مشکل در به‌خواب‌رفتن، بالا رفتن ضربان قلب، عرق کردن (حتی شب‌هنگام در خواب)، اضطراب، رعشه و ... اشاره کرد. داکتر متخصص قادر به تشخیص و درمان این اختلال خواهد بود. برای تشخیص از بیمار خون می‌گیرند و میزان هورمون موجود در خون بررسی می‌شود. اگر تشخیص داکتر پرکاری تایروئید بود، از یکی از راهکارهای درمانی معمول برای برطرف کردن آن استفاده خواهد کرد. معمولاً عملکرد غده تایروئید را با تجویز دوا کنترل می‌کنند. در کنار این داروها ممکن است از داروهای مسدودکننده بتا هم استفاده شود که بعضی از نشانه‌های پرکاری نظیر افزایش ضربان قلب را تا حدودی برطرف می‌کنند.

# ارگ: تر ولسمشریزو ټاکنو مو د سولې هر ډول هڅې ځنډولې دي

ولسمشرۍ ماڼۍ ویلي، د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو په موخه یې د سولې اړوند هر ډول هڅې بندې کړې دي.
د ولسمشرۍ ماڼې ویاند صدیق صدیقي پرون په کابل کې د یوه مطبوعاتي کنفرانس پر مهال وویل، چې دا مهال د افغان حکومت لپاره د ولسمشریزو ټاکنو تر سره کېدل لومړیتوب لري، نو ځکه د سولې هر ډول هڅې بندې شوې دي.
صدیقي وویل: «د افغانستان حکومت د سولې اړوند هڅې بندې کړې دي، اوسمهال د افغانستان د حکومت لپاره د ټاکنو تر سره کېدل لومړیتوب لري».
نوموړي دغه راز زیاته کړې چې دا تر ټاکنو وروسته په جوړېدونکي حکومت پورې اړه لري چې د سولې بهیر تعقیب کړي.
دا په داسې حال کې ده چې ټاکل شوې ولسمشریزې ټاکنې د راتلونکې تلې په شپږمه نېټه وشي.
افغان حکومت داسې مهال د ولسمشریزو ټاکنو په خاطر د سولې اړوند هڅو د بندولو خبر ورکوي، چې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د سپټمبر په اوومه په کابل کې د طالبانو د موټربم برید په غبرگون کې چې یو امریکایي وگړی او ۱۱ افغانان یې ووژل، له طالبانو سره د سولې خبرې لغوه کړې.
په ورته وخت کې، صدیقي مسکو ته د طالب استازو د وروستي سفر په اړه ویلي، چې د طالبانو یاد سفرونه به هېڅ نتیجه ور نه کړي.
د راپورونو له مخې، یو دری کسیز طالب پلاوی د افغان سولې په تړاو د بحث لپاره تېره ورځ مسکو ته تللی دی.
نوموړي زیاته کړې چې طالبانو د سولې اصلي ادرس چې د ده په خبره، د افغانستان خلک دي، ورک کړی دی.
صدیقي ویلي: «زموږ په باور مسکو او یا هم چین ته د څو تنو طالب مشرانو سفرونه د دوی«طالبانو» قطعي سیاسي ماتې ده، طالبانو د سولې اصلي ادرس ورک کړی دی. د سولې اصلي ادرس د افغانستان خلک او د سولې پروسه ده چې د افغانستان د حکومت له خوا مدیریت او رهبري کېږي».

# ملگري ملتونه: نشه يي توکو لاهم د افغانستان امنیت او ثبات له گواښ سره مخ کړی دی

ملگرو ملتونو ویلي، لاهم په افغانستان کې د نشه یي توکو کښت، تولید او قاچاق د دغه هېواد د امنیت او اقتصادي پیاوړتیا په لاره کې لوی خنډ دی.
د ملگرو ملتونو د امنیت شورا په هغه غونډه کې چې د افغانستان د وضعیت په تړاو جوړه شوې وه، د نشه یي توکو کښت، تولید او قاچاق د جگړې د دوام او اقتصادي ودې د کمزورتیا لاملونه بلل شوي دي.
د ملگرو ملتونو له جرمونو او نشه یي توکو سره د مبارزې ادارې یا (UNODC) رییس یوري فیدیدوف چې د ویډیویي کنفرانس له لارې یې د غونډې گډونوالو ته خبرې کولې، ویلي: «که څه هم افغان ځواکونه هڅه کوي چې بهر ته د سلگونو ټنه نشه یي موادو د قاچاق او افغانستان ته د کیمیاوي موادو د راتلو مخه ونیسي، خو ترهگرې ډلې له دې لارې سلگونو میلیونه ډالر تر لاسه کوي او بیا د دې پیسو په مټ جگړه کوي».
هغه ویلي: «نشه یي توکي، جرمي اقتصاد او د پیسو سپینول د افغانستان امنیت او ثبات تهدیدوي، دې جرمونو د افغانستان پر اقتصادي وضعیت باندې اغېز کړی او د کارموندنې، خصوصي سکټور د ودې او عوایدو د ډېروالي مخه یې نیولې ده، د دولت د وسله والو مخالفینو تر واک لاندې سیمو کې کوکنار کرل کېږي او ترهگرې ډلې له دې لارې څخه په کال کې سلگونه میلیونه ډالر پیدا کوي».
که څه هم افغان دولت او له نشه یي توکو او جرمونو سره د مبارزې نړیوالې ادارې په افغانستان کې د نشه یي توکو د کښت سږنی راپور نه دی اعلان کړی، خو د دې ادارې عمومي رییس امنیت شورا ته ویلي، د دوی لومړنۍ څېړنې ښیي چې په ۲۰۱۹ ز کال کې د نشه یي توکو کښت را کم شوی دی.
د ملگرو ملتونو له جرمونو او نشه یي توکو سره د مبارزې ادارې مشر د امنیت شورا له غړو سره ژمنه کړې، چې د یوې سیمه ییزې ستراتېژۍ په چوکاټ کې به له نشه یي توکو سره د مبارزې په برخه کې د هېوادونو ترمنځ همغږي ډېره کړي.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**گرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!
flydubai
TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0786 55 55 91, 0786 55 55 92
0786 55 55 93, 0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستی برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.

یکشنبه د ۱۳۹۸ د وږي ۲٤مه | د ۲۰۱۹ د سپټمبر ۱۵مه | ٤۲۷مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار |
|---|---|---|---|---|
| ۲۹ | ۳۱ | ۳٤ | ۲۹ | ۳۵ |
| ۱۳ | ۱٤ | ۱۷ | ۱۷ | ۲۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۱۲ | لمر ختل ۰۵:۳۵ | ماسپښین ۱۱:۵۰ | مازدیگر ۰۳:۲۱ | ماښام ۰٦:۰۳ | ماخوستن ۰۷:۲۸

## نړۍ



## د ترکیې حکومت د ۲۰۱٦ ز کال د ناکامې کودتاه په تړاو د سلګونو پوځیانو د نیولو امر کړی دی

۳

CoAR 1989
هماهنگی کمک ها برای افغانها
Coordination of Afghani Relief

اعلان داوطلبی

مؤسسه هماهنگی کمک‌ها برای افغانها (CoAR) به کمک مالی AHF تصمیم دارد به شاگردان عودت کننده از مهاجرت و بیجاشده گان متاثر از جنگ‌های داخلی ولایت کندهار ولسوالی‌های سپین بولدک، ژیری و تخته‌پل کیتهای صنفی خریداری نماید. آنعده شرکت‌های لوژستیکی که دارای تجربه کاری مرتبط، لایسنس مدار اعتبار باشند، لطف نموده شرطنامه را از سایت www.acbar.org.af از تاریخ (September 15, 2019) الی (September 21, 2019) به دست آورد و افرهای قیمت‌دار سربسته خویش را الی تاریخ متذکره به آدرس ذیل بسپارد.

خانه نمبر ۱٦۷٦، مقابل محب زاده مارکیت،
پل سرخ، کارته چهار، ناحیه سوم شهر کابل.
procurement@coar.org.af

CoAR 1989
هماهنگی کمک ها برای افغانها
Coordination of Afghani Relief

اعلان داوطلبی

مؤسسه هماهنگی کمک‌ها برای افغانها (CoAR) به کمک مالی AHF تصمیم دارد به شاگردان عودت کننده از مهاجرت و بیجاشده گان متاثر از جنگ‌های داخلی ولایت کندهار ولسوالی‌های سپین بولدک، ژیری و تخته‌پل کیتهای متعلمین خریداری نماید. آنعده شرکت‌های لوژستیکی که دارایی تجربه کاری مرتبط، لایسنس مدار اعتبار باشند، لطف نموده شرطنامه را از سایت www.acbar.org.af از تاریخ (September 15, 2019) الی (September 21, 2019) به دست آورد و افرهای قیمت‌دار سربسته خویش را الی تاریخ متذکره به آدرس ذیل بسپارد.

خانه نمبر ۱٦۷٦، مقابل محب زاده مارکیت،
پل سرخ، کارته چهار، ناحیه سوم شهر کابل.
procurement@coar.org.af

CoAR 1989
هماهنگی کمک ها برای افغانها
Coordination of Afghani Relief

اعلان داوطلبی

مؤسسه هماهنگی کمک‌ها برای افغانها (CoAR) به کمک مالی AHF تصمیم دارد به معلمین عودت کننده از مهاجرت وبیجاشده گان متاثر از جنگ‌های داخلی ولایت کندهار ولسوالی‌های سپین بولدک، ژیری و تخته‌پل کیتهای معلمین خریداری نماید. آنعده شرکت‌های لوژستیکی که دارای تجربه کاری مرتبط، لایسنس مدار اعتبار باشند، لطف نموده شرطنامه را از سایت www.acbar.org.af از تاریخ (September 15, 2019) الی (September 21, 2019) به دست آورد و افرهای قیمت‌دار سربسته خویش را الی تاریخ متذکره به آدرس ذیل بسپارد.

خانه نمبر ۱٦۷٦، مقابل محب زاده مارکیت،
پل سرخ، کارته چهار، ناحیه سوم شهر کابل.
procurement@coar.org.af

CoAR 1989
هماهنگی کمک ها برای افغانها
Coordination of Afghani Relief

اعلان داوطلبی

مؤسسه هماهنگی کمک‌ها برای افغانها (CoAR) به کمک مالی AHF تصمیم دارد به شاگردان عودت کننده از مهاجرت وبیجاشده گان متاثر از جنگ‌های داخلی ولایت کندهار ولسوالی‌های سپین بولدک، ژیری و تخته‌پل کیتهای هایجین خریداری نماید. انعده شرکت‌های لوژستیکی که دارایی تجربه کاری مرتبط، لایسنس مدار اعتبار باشند، لطف نموده شرطنامه را از سایت www.acbar.org.af از تاریخ (September 15, 2019) الی (September 21, 2019) به دست آورد و افرهای قیمت‌دار سربسته خویش را الی تاریخ متذکره به آدرس ذیل بسپارد.

خانه نمبر ۱٦۷٦، مقابل محب زاده مارکیت،
پل سرخ، کارته چهار، ناحیه سوم شهر کابل.
procurement@coar.org.af

CoAR 1989
هماهنگی کمک ها برای افغانها
Coordination of Afghani Relief

اعلان داوطلبی

مؤسسه هماهنگی کمک‌ها برای افغانها (CoAR) به کمک مالی AHF تصمیم دارد به شاگردان عودت کننده از مهاجرت و بیجاشده گان متاثر از جنگ‌های داخلی ولایت کندهار ولسوالی‌های سپین بولدک، ژیری و تخته‌پل خیمه های صنفی خریداری نماید. آنعده شرکت‌های لوژستیکی که دارایی تجربه کاری مرتبط، لایسنس مدار اعتبار باشند، لطف نموده شرطنامه را از سایت www.acbar.org.af از تاریخ (September 15, 2019) الی (September 21, 2019) به دست آورد و افرهای قیمت‌دار سربسته خویش را الی تاریخ متذکره به آدرس ذیل بسپارد.

خانه نمبر ۱٦۷٦، مقابل محب زاده مارکیت،
پل سرخ، کارته چهار، ناحیه سوم شهر کابل.
procurement@coar.org.af